Share

Twittern

سرتور ملنګ

۲۰۱۲/۰۵/۱۲

# تیاره راتلونکی

د طالبانو له ماتی او سقوط وروسته  افغان ولس ته دا لویه هیله پیدا شوه چی ګوندی اوس به که خیر وو افغانستان جوړ شی ځکه د نړی ستر نظامی زبر ځواک له ټولو نویو تجهیزاتو سره زموږ هیواد ته راغی نو ټولو دا هیله درلوده چی د داسی ستر طاقت په مقابل کی به څرنګه مخالفین او یا د پاکستان مداخلی مقاومت کوی حتماٌ به ډیر ژر دلته سوله راشی او نور به د جګړی تغر ټول شی خلک به د آرام ژوند خاوندان شی همدارنګه د نړی ټول ستر اقتصادی قوتونه هم دلته موجود وو نو بیا به هم موږ ویل چی د دومره زیاتو مرستو او پیسو سره به زموږ وطن که د مخکښو هیواد په جمله کی را نشی نو حتماٌ به مو هیواد آباد او اقتصادی وضعه به مو ښه شی په و طن کی به اقتصادی زیر بناوی جوړی شی خلکو ته به دکار زمینه برابره شی، پلونه، بندونه، سرکونه، فابریکی او نور زیر بنایی تاسیسات به جوړ شی. زموږ دا ټولی هیلی په ځای وی داټول امکانات دلته موجود ووهره شپه به د خبرونو سر ټکی دملیونونو ډالرو په مرستوییل کیدل کله به په توکیو، کله لندن او کله په جرمنی کی د افغانستان سره د مرستو کنفرانسونه جوړیدل په هرکنفرانس کی به د لسګونو ملیاردو ډالرو د مرستو وعدی وشوی. په ډیر تاسف سره چی د افغان ولس داټولی هیلی په اوبو لاهو شوی او د سلګونو هیلو له جملی څخه یوه هم عملی نشوه د خلکو سره اوس نه تنها د ښه والی، ابادی او آرامی هیلی نشته بلکی خلک اوس ویریدونکی درانه خوبونه وینی او تیاره راتلونکی ته انتظار باسی. جهانی قوتونه اوس د وتلو لپاره بانی لټوی او د وتلو لپاره نیټی ټاکی او ډیر ژر به خپله وروستی پریکړه د شیکاګو په کنفرانس کی و کړی او د وتلو وروستی نیټه به اعلان کړی. جهانی قوتونه او په سر کی امریکا لا له وخته د وتلو لپاره کمپاین شروع کړی او خپلو خلکو او نړیوالو ته دا بیانوی چی د افغانستان اردو او نظامی قواوی اوس دومره قوی شوی چی کولای شی په یوازی سر د خپل هیواد نه دفاع وکړی او افغانی قواو ته د آمنیت د ساتلو مرحلی هم په ترتیب سره عملی کیږی چی په دی ورځو کی به دریمه مرحله تکمیله شی او د هیواد په نورو ولایاتونو کی به هم امنیتی چاری افغانی ځواکونو ته وسپارل شی جناب احمد زی صاحب چی د هیواد وتلی او نامتو با تدبیره شخص ده او ملی اردو ته د آمنیت چارو د سپارولو چاری مخ ته بیایی خدای د و کړی چی د آمریکا له وتلو وروسته بیا هم په دی هیواد کی پاته شی او  د اردو سره په آمنیتی چارو کی د لار ښونی رول ولوبوی. زما په نظردا ټولی ډرامی دی امریکا یوازی د خپلو قواو د وتلو لپاره لاری جوړوی او د ځان لپاره د ختو پزه جوړه وی. د ستراتیژیک تړون لاسلیک هم یوه ډرامه ده شوروی اتحاد هم کله چی پوه شو چی دلته د بریالیتوب امکان نشته نو  د خپلو عسکرو د وتلو لپاره د ژنیو تړون لاسلیک کړ او د ځان لپاره یی د ختی پزه جوړه کړه. امریکا هم همداسی یو تړون لاسلیک کړ. همدا اوس چی د یونیم لکو نه زیات بهرنی عسکر او د ناتو قواوی دلته موجودی دی  نه د پیسو کمی شته او نه د وسلو کمی شته ولی بیا هم دلته هره ورځ جنګ وی او هره ورځ په لسګونو کسان مری نو کله چی  دا قواوی ووځی آیا د افغانستان اردو چی همدا اوس په تنظیمونو ویشلی اردو ده او هر قوماندان په یوه تنظیم بوری تړلی ده څرنګه به د مخالفینو سره و جنګیږی. د اردو ټول قوماندانان د تنظیمونو له خوا معرفی شوی او دهغو له خوا حمایه کیږی همدا اوس د مرکزی دولت اوامر نه منی آیا د مزار، پروان او شبر غان  قولی اردو همدا اوس د مرکزی دولت اوامر منی؟ ایا په پولیسو کی همدا اوس څو فیصده د مرکزی حکومت تر قومانده لاندی دی. که د اردو او پولیسو تنظیمی او قومی ارتباطات هم په نظر کی و نه نیسو زموږ اردو هوایی ځواک نلری د کشف مدرن وسایل نلری نو څرنګه به  زموږ اردو  د امنیت په ساتلو کی بریالی شی؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دلته بله درامه هم روانه ده موږ نه پوهیږو چی دا ستر سو پر پاور په ربښتیا نه پو هیږی او که ځان نه پوهوی  هغه داچی د پاکستان په اشاره په هغو ولایتونو کی چی د امنیت چاری یی افغان ځواکونو ته سپارل کیږی هلته مخالفین ډیر تخریبی عملیات نکوی تر څو داسی و شی چی ملی اردو د دی توان لری چی په یوازی توګه آمنیت و ساتی. مخالفیین پو هیږی چی د هغو دښمن(امریکا او ناتو) ځی نوباید د هغو د وتلو سره مرسته و کړی او یا هم شاید د امریکا په اشاره همدا لوبه روانه وی.

دا به موږ. څرنګه و منو چی دلته زموږ اردو او آمنیتی ځواکونه له پخوا څخه قوی شوی دی په داسی حال کی چی په ولایتونو کی همدا اوس د دولت حاکمیت صفر ته تقرب کوی مخالفینو د ولسوال او علاقدار په سویه خپل موازی حکومتونه جوړ کړی دی. دولایتونو لوړ رتبه چارواکی د ځان د ساتلو لپاره همدا اوس مخالفینو ته و سلی او پیسی ورکوی. کله چی داکتر نجیب دی ته اماده شو چی قدرت پریږدی نو د هغه د کابینی غړو او لوړ رتبه چاروکو سمدستی د مخالفینو سره ارتباطات و نیول او هغو ته یی حق العضویت ورکاوو. اوس هم همغه لوبه شروع شوی ده چارواکی پو هیږی چی امریکا به تیښته کی ده نو دوی د ځان د بقا لپاره د مخالفینو سره تماسونه نیولی او هغو ته راپورونه ورکوی. همدا اوس په جنوبی ولایتونو کی په ډیر زیات تعداد د مخالفینو جنګیالی را رسیدلی چی په اکثرو ځایونو کی یی قوماندانان  بهرنی جنګیالی دی. ولی امریکا او زموږ بی کفایته دولت خلکو ته  د بریا او آمنیت خبری کوی.

پاکستان، ایران او نور هیوادونو چی خپلی ګټی د افغانستان په بربادی او تباهی کی وینی او په تیرو دریو لسیزو کی دلته د جګړی اور بل ساتلی په خپلو ټولو امکاناتو سره هڅی کوی تر څو هر څومره ژر چی امکان ولری امریکا د دی ځایه و باسی. آیا د پاکستان آی اِس آی او د ایران آخوندی رژیم  شکست خوړلی چی موږ امیدوار شو چی د امریکا له وتلو وروسته به دلته سوله راشی؟ آیا د مخالفینو د روزنی کمپونه تړل شوی چی موږ دا و منو چی دلته به سوله راشی؟  د دی او دی ته ورته سوالونو ځواب منفی ده. نه د پاکستان آی اِس آی او نه هم د ایران آخوندی رژیم شکست خوړلی ده او نه هم هغو ژمنه کړی چی زموږ سره د سولی په را وستو کی مرسته وکړی. د ایران د حکومت د نوی سفیر لاسوهنی په ډاګه زموږ د ادعا ثبوت دی. ایران، پاکستان او دهغو متحدینو لوبه ګټلی  یوازی ډیر کم وخت پاته ده چی دوی یو ځل بیا خپلو موخو ته ورسیږی.

لکه څرنګه چی د دی مقالی عنوان تیاره راتلونکی ده زما په نظر د امریکایانو له وتلو سره سم به دا ولس یو ځل بیا د لویو مصیبتونو سره مخامخ شی(ګر چی زه د لوی خدای دربار ته په ډیر عجز سره خواست کوم چی نور دا ولس د جګړی له اوره وساتی او په دی هیواد کی د اَبد لپاره د جګړی تغر ټول کړی). ولی دا هم باید ور زیاته کړم چی د افغانانو د کړاو او مصیبتونو یو عامل هم پخپله د امریکا دولت وو چی د طالبانو له ماتی وروسته یی د بن په کنفرانس کی د نوی دولت تهداب  کوږ کیښودل او د حکومت واګی یی غلو، جنګی جنایتکارانو او داسی کسانو ته وسپارلی چی دهغو د جنایتونو دلاسه خلکو د طالبانو هرکلی و کړ. اوس هم عام ولس د همدغو جنایت کارانو د ظلم او بی عدالتی د لاسه د طالبانو خوا نیولی او دولت ته یی شا کړی ده. زما په  نظر په افغانستان کی د امریکا او ناتو د ماتی عوامل د پاکستان د آی اِس آی تخریبی عملیات او دوه مخی سیاست او د کرزی په مشری د غلو او جنایت کارانو حکومت وو. تر څو پوری چی پورتنی دواړه عوامل په کلی توګه له منځه نه وی تللی دلته د سولی راتګ همغه د **ملا معنوی خبره خیال است و محال است و جنون.**

په در نښت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ